افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board

بریـــــــا د ټولو هیله

اووم کال، دریمه ګڼه

مارچ - ۲۰۲۰ کال

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنیو او بازار موندنې څانګه
میاشتنۍ مجله
مارچ - ۲۰۲۰

مسوول مدير: عبدالله خان پکتانی

ليکوالان او راټولوونکي:

ابراهيم مومند، محمد فريد هوتک، محمد نعمان اشرفي او پرهيز شګيوال، حکمت الله دولتزی

عکس اخيستونکي:

سيد حسرت سادات او صديق الله عابد

ډيزاين: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لړلیک

سرمقاله	۱
افغان لوبډلې یو ځل بیا ویاړونه راوړل	۲
نړیوال کرکټ کې د راشد خان د ستري کارنامې دوه کاله پوره شول	۱۰
د کورونا پر وړاندې جدي واوسئ	۱۴
پیچ (Pitch)	۲۰
کورونا وایرس د کرکټ نړۍ هم بېخونده کړه	۲۴
شرف الدین اشرف سره مرکه	۲۸
دافغانستان کرکټ بورډ د ځانګو پېژندنه	۳۴
ستاړک د خپلې مېړمنې هیلي لپاره د سویلي افریقا پر وړاندې پایلوبه پرېښوده	۴۰
AFGHAN TALENT IMMENSE AND EXCITING- H.D ACKERMAN	۴۵

سرمقاله

افغان لوبډله

ده چې بریاوې دي

افغان ملي لوبډله یو ځل بیا وتوانېده چې خپلې سیالې ایرلنډ لوبډلې ته د درېیو لوبو د لوبلړۍ له منځه ۱-۲ په توپیر ماتې ورکړي او د یاد هېواد پر وړاندې یو ځل بیا بریا خپله کړي چې له دې وړاندې یې هم دغې لوبډلې ته ورته ماتې ورکړې وې او انشاءالله په راتلونکو لوبو کې به هم د نورو پیاوړو لوبډلو پر وړاندې هم بریاوې خپلوي. د دغو سیالیو یوه ګټه دا هم ده چې ورسره به د کرکټ نړیوالې شورا راتلونکي شل اوریز جام لوبو لپاره افغان لوبډله بشپړه چمتو شي، نو اوسمهال دوی د یادو سیالیو لپاره بشپړ چمتووالی لري او انشاءالله لېرې به نه وي چې په دغو لوبو کې به ډېرې بریاوې خپلوي. له بل لوري دا چې نړۍ اوسمهال د کورونا له وژونکي وایرس سره لاس او ګرېوان ده نو هیله ده چې دغه ناروغي په وخت کنټرول او د کرکټ نړۍ مړاوې تلوسه او هیلې یو ځل بیا راتازه شي او هېوادوال مو د خپلو لوبغاړو له لوبو خوند واخلي.

افغان کرکټ بورډ هم په دغه برخه کې خپل مسوولیت ادا کړی او تر اوسه یې د یادې ناروغي له امله لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ او نور شته پروګرامونو هم د وایرس له لېږدېدو د مخنیوي په موخه ځنډولي دي. نو خدای متعال دې وکړي چې زموږ ټول هېوادوال او د کرکټ مینه وال له دغې وژونکې ناروغۍ په امان واوسي او ژر تر ژره زموږ له هېواده، بلکې ټولې نړۍ ورکه شي.

درنښت

افغان لوبډلې یو ځل بیا ویاړونه راوړل

د روان زېږديز کال په مارچ میاشت کې افغانستان د ایرلنډ لوبډلې پر وړاندې درې شل اوریزې نړیوالې لوبې ترسره کړې چې په پایله کې یې افغان لوبډلې خپل سیال لوري ته د ۱-۲ په توپیر ماتې ورکړه او یو ځل بیا یې ایرلنډ ته د نړیوالو شل اوریزو لوبو په لوبلړۍ کې ماتې ورکړه او افغانستان ته یې یو ځل بیا ویاړونه راوړل.

د دواړو لوریو ترمنځ لومړۍ شل اوریزه نړیواله لوبه د مارچ میاشتې په شپږمه نېټه ترسره شوه چې په پایله کې یې افغان لوبډلې د ایرلنډ لوبډلې ته د DLS تګلارې له مخې ایرلنډ ته د ۱۱ منډو په توپیر ماتې ورکړه او په دې سره یې په دغه لوبلړۍ کې لومړۍ بریا خپله کړه. په پیل کې د ایرلنډ لوبډلې د لوبې د پچې په ګټلو سره لومړی توپوهنه وکړه چې په پایله کې یې په ټولو ۲۰ اورونو کې د شپږو لوبغاړو په سوځېدو افغان لوبډلې ته د ۱۷۳ منډو هدف وټاکه چې د توپوهونکو له منځه یې پاول سټرلېنګ ډېرې ۶۰ منډې، کېون او برېن ۳۵، اچ ټي ټېکټور ۲۹ ناسوځېدلې او لوبډلمشر بېلبېرنې ۲۹ منډې وکړې، خو د افغان توپ اچوونکو په استازیتوب راشدخان درې، شاپور ځدراڼ او مجیب الرحمن یوه-یوه ویکټ ترلاسه کړه. وروسته افغان لوبډلې خپله توپوهنه پیل کړه چې له منځه یې حضرت الله ځاځي او رحمن الله ګربز ډېر ښه پیل وکړ او چټکه لوبه یې پیل کړه، خو هر یوه یې په ترتیب سره په ۲۳ او ۲۸ منډو خپلې ویکټې له لاسه ورکړې.

دغه راز سمیع الله شینواري هم چې له نجیب الله ځدراڼ سره یې د لوبې ملګرتیا کوله، له ۲۸ منډو ترلاسه کولو وروسته خپل ویکټ له لاسه ورکړه چې په دې سره نومړي په دغه لوبه کې د ۱۰۰۰ منډو هدف هم بشپړ کړ چې نومړي په ۶۳ شل اوریزو لوبو کې دغه هدف پوره کړ. دا په داسې حال کې ده چې له دې سره سمیع الله شینواری څلورم افغان لوبغاړی شو چې په شل اوریزو نړیوالو لوبو کې ۱۰۰۰ منډې پوره کوي چې له نومړي وړاندې لوبډلمشر اصغر افغان، شهزاد محمدي او محمد نبي هم دغه اندازه منډې پوره کړې دي. د سمیع الله شینواري په سوځېدو سره نجیب الله ځدراڼ لا په ۴۲ ناسوځېدلو منډو ولاړ و چې په لوبغالي کې باران پیل شو او له امله یې لوبه ودرېده. دا چې

باران ډېر شدید و او دوام يې پیدا کړ نو د کرکټ لوبې د ډي/ال/اس تګلارې پر بنسټ، د لوبې د څارونکو د پرېکړې له مخې افغان لوبډله له سیالې لوبډلې د ۱۱ منډو په توپیر ګټونکې اعلان شوه.
باید وویل شي چې افغانستان په ۱۵ اورونو کې د پنځو لوبغاړو په سوځېدو، ۱۳۳ منډې کړې وې او د هدف لپاره ورته په پنځو اورونو کې د ۴۰ منډو اړتیا وه چې باران پیل شو او لوبې نور دوام ونه موند.
باید وویل شي چې د دغې ورځې د غوره لوبغاړي جایزه راشدخان او د سټایلش لوبغاړي جایزه بیا نجیب الله ځدراڼ ترلاسه کړه.
د دواړو لوبډلو ترمنځ دویمه شل اوریزه لوبه د همدې میاشتې په اتمه نېټه ترسره شوه چې په ترڅ کې يې افغانستان یو ځل بیا د ایرلنډ لوبډلې ته ماتې ورکړه او له سیالې لوبډلې يې د ۲۱ منډو په توپیر بریا خپله کړه.

په دغه لوبه کې چې د هندوستان د ګریټر نویډا ښار په لوبغالي کې ترسره کېده، افغان لوبډلې پکې د لوبې پچه وګټله او لومړی يې

توپوهنه غوره کړه چې د څلورو لوبغاړو په سوځېدو سره يې په ټولو ۲۰ اورونو کې سیالې لوبډلې ته د ۱۸۵ منډو هدف وټاکه چې د افغان

توپوهونکو له لوري اصغر افغان ۴۹ ډېرې، رحمن الله ګربز ۳۵ او حضرت الله ځاځي ۲۷ منډې وکړې او په دې سره يې په ټوله کې له سیالې

لوبډلې ۱۸۴ منډې ترلاسه کړې.
ورپسې ایرلنډ خپله پاڼۍ پیل کړه، خو د ۲۰ اورونو په لوبولو سره بیا هم په دې ونه توانېده چې د افغان لوبډلې له لوري ورکړل شوی هدف پوره کړي چې په یادو اورونو کې يې د شپږو لوبغاړو په سوځېدو ۱۶۳ منډې ترلاسه کړې او له افغان لوبډلې يې د ۲۱ منډو په توپیر ماتې وخوړه.
دا په داسې حال کې ده چې د افغان توپ اچوونکو له منځه مجیب الرحمن درې، راشدخان، ګلبدین نایب او شاپور ځدراڼ یوه-یوه ویکټ ترلاسه کړه او سیالې لوبډلې ته يې اجازه ورنکړه چې ډېرې منډې ترې ترلاسه کړي.
په دې سره افغان لوبډلې د افغانستان اسلامي بانک جام شل اوریزو سیالیو لوبړۍ کره کړه او

دغه بریا یې د افغانستان په نوم
ولیکله چې د دغې لوبې د غوره
لوبغاړي جایزه مجیب الرحمن
ځدران او د سټایلش لوبغاړي
جایزه اصغر افغان ته ورکړل شوه.

له برابرېدو وروسته د سوپر اور په
پایله کې له ایرلنډ ماتې ومنله.
د دغې لوبې پچه هم ایرلنډ
لوبډلې وګټله او لومړی یې د
توپوهنې پرېکړه وکړه چې د ټولو

ورپسې د مارچ میاشتې په ۱۰مه
نېټه دواړو لوریو د لوبلړۍ په
وروستۍ او دریمه سیالۍ کې د
یو بل پر وړاندې لوبه وکړه چې په
پایله کې یې افغان لوبډلې د لوبې

۲۰ اورونو په لوبولو سره یې د
اتو ویکټو په سوځېدو افغانستان
ته د ۱۴۳ منډو هدف وټاکه.
د ایرلنډ توپوهونکو له لوري
جي جي ډیلانې ۳۷، ټکټار

۳۱ او کېون اوبراین ۲٦ منډې
ترلاسه کړې او له افغان لوبډلې
یې ۱۴۲ منډې ترلاسه کړې.
افغان توپ اچوونکي په دغه لوبه
کې ډېر ښه وځلېدل چې په

استازیتوب یې قیس احمد چې
نن یې لومړنۍ شل اوریزه نړیواله
لوبه هم وه؛ درې ویکټې ترلاسه
کړې او دغه راز نوین الحق هم ډېر
ښه وځلېده چې نوموړي هم درې

سیال لوبغاړي له ډګره بهر کړل.
دا په شل اوریزو نړیوالو لوبو کې
قیس احمد لومړنۍ لوبه چې
ګډون یې پکې وکړ او پایله یې
هم ډېره ښه وه چې یاد ځوان

لوبغاړي په پرله پسې ډول ویکټې
واخیستې او ډېر ښه وځلېده.
د یادولو ده چې د دغې ادارې
همېشنۍ ټینګار هم په دې دی،
څو ځوان لوبغاړي ملي لوبډلو ته

لاره ومومي او په عموم کې مو تهوله لوبډله ډېره پیاوړې او ځوانه شي. دغه راز باید یادونه وشي چې راشدخان او مجیب الرحمن هم یوه-یوه ویکټې واخیسته او افغان توپ اچوونکو به عموم کې ډېره ښه لوبه ننداري ته وړاندې کړه او سیاله لوبډله یې ډېرو منډو اخیستو ته پرېښنبوده. ورپسې افغان لوبډلې توپوهنه پیل کړه او ډېره په زړه پورې توپوهنه د رحمن الله گربز او عثمان غني

له لوري پیل شوه چې هر یوه یې په ترتیب سره له ۴۲ او ۱۸ منډو ترلاسه کولو وروسته ویکټې پیل کړې او دوی سربېره اصغر افغان ۳۲ منډې وکړې، خو راشدخان لا په ۱۴ ناسوځېدلو منډو ولاړ و چې د ۲۰ اور په وروستي توپ یې څلوریزه ووهله او د سیالې لوبډلې ۱۴۲ منډو سرحد ته یې لوبه ورسوله چې په دې سره لوبه برابره شوه او خبره سوپر اور ته ولاړه.

ورپسې په سوپر اور کې د افغانستان په استازیتوب محمد نبي او گربز ډگر ته ښکته شول چې له سیالې لوبډلې یې ۸ منډې وکړې او د نهو منډو هدف یې ورته وټاکه، چې بیا د افغانستان د توپ اچونې په برخه کې راشدخان راغی، د ایرلنډ پاول سټېرلنگ یې په دریم توپ ال بي ډبلیو او له ډگره بهر کړ، خو ایرلنډ ته د گټلو لپاره لا دوه منډې پاتې وې چې کېون اوبراین د راشدخان

په وروستي توپ شپږیزه ووهله او خپله لوبډله یې بریا ته ورسوله. باید ووېل شي چې ایرلنډ له اووه کلونو وروسته وکولی شول، څو له افغانستان په شل اوریزو لوبو کې بریا خپله کړي او همدارنگه دا په شل اوریزو لوبو کې د افغانستان لومړنی سوپر اور و چې له ایرلنډ سره رامنځته شو. په دې سره د همدې لوبې د غوره لوبغاړي جایزه کېون اوبراین او

د سټایلش لوبغاړي جایزه نوین الحق ته ورکړل شوه، په داسې حال کې چې د دواړو لوبډلو ترمنځ د افغانستان اسلامي بانک جام د شل اوریزو سیالیو د لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جایزه بیا رحمن الله گربز ترلاسه کړه. د یادولو ده چې افغانستان تېر ۲۰۱۹ زېږدیز کال هم د فبروي له ۲۱مې د مارچ تر ۱۹مې نېټې پورې درې شل اوریزې نړیوالې، پنځه یو

ورځنۍ نړیوالې او یوازېنۍ ټېسټ لوبه ترسره کړې وه چې له ډلې یې افغانستان درې واړه شل اوریزې په خپل نوم کړې وې، په یو ورځنیو لوبو کې دوه د افغانستان او دوه بیا د ایرلنډ په گټه پای ته رسېدلې وې چې یوه د باران ورښت له امله لغوه شوې وه او د یوازېنۍ ټېسټ لوبې بریا هم د افغانستان په نصیب شوې وه.

نړیوال کرکټ کې د راشد خان د سترې کارنامې دوه کاله پوره شول

له اوس دوه کاله وړاندې د ۲۰۱۸ کال د مارچ میاشتې په ۲۵مه نېټه راشد خان د کرکټ نړۍ د دوه مشهوره لوبغاړو ریکارډونه مات او دغه ستره کارنامه یې په خپل نوم کړه. د مارچ ۲۵مه نېټه هغه ورځ ده چې پکې افغان ورو توپ اچوونکي راشد خان د هغه لوبغاړو په کتار کې لومړی ځای خپل کړ چې په کمو ۴۴ پنځوس اوریزه لوبو کې ۱۰۰ وېکټې پوره کړې. راشد خان دغه کارنامه د

۲۰۱۹م کال پنځوس اوریزه کرکټ نړیوال جام سیالیو ته د لارموندنې پر مهال د زمبابوې په کوربه توب د غوراوې پړاو سیالیو کې د ویسټ انډیزې لوبغاړي شای هوپ په سوځولو سره په خپل نوم کړه. نوموړی دغه راز د پنځوس اوریزه لوبو د تاریخ هغه کم عمره لوبغاړی هم وبلل شو چې په کم عمر ۱۹ کلنۍ کې یې دغه کارنامه په خپل نوم کړه.

له دې وړاندې په کمو پنځوس اوریزه لوبو کې د ۱۰۰ ویکټو اخیستو ریکارډ له استرالوي میچل سټارک سره وو چې په ۵۲ لوبو کې یې دومره لوبغاړي سوځولي وو. دغه راز د کم عمره لوبغاړو په ډله کې بیا پاکستانې ثقلین مشتاق مخکې وو چې په ۲۰ کلنۍ کې یې د ۵۰ اوریزه لوبو ۱۰۰ وېکټې پوره کړې وې خو اوس دواړه ریکارډونه له افغان مشهوره لوبغاړي راشد خان سره دي.

د کرکټ نړۍ د یو شمېر نورو ریکارډونو لرلو ترڅنګ د ۲۰ اوریزه توپ اچوونکو په ډله کې سرلارې او لومړي مقام لرونکي راشد خان ته په دغه بڼه کرکټ کې یو شمېر نور ریکارډونه هم انتظار کوي.

همدارنګه باید ووېل شي چې راشد خان باید په ۲۰ اوریزو نړیوالو لوبو کې ۴ نورې ویکټې هم ترلاسه کړي، ترڅو په دې سره به د شل اوریزه لوبو په تاریخ کې هم کم عمره او اتم توپ اچوونکې شي چې ټولټال ۳۰۰ وېکټې پوره کوي چې اوسمهال یې په ۲۱۱ نړیوالو لوبو او لیګونو کې ۲۹۶ وېکټې ترلاسه کړې دي.

د کورونا

پر وړاندې جدي واوسئ

افغانستان کرکټ بورډ د کورونا ناوړه وایرس پر وړاندې د مبارزې او مخنیوي او همدارنګه د عامه پوهاوي په برخه کې خپل ستر مسوولیت ادا کړی چې د خپل چاپیریال پاک ساتلو ترڅنګ له ټولو هېوادوالو هم هیله لري چې د یادې ناروغۍ پر وړاندې ډېر جدي واوسي او د مخنیوي په موخه یې کوټلي ګامونه پورته کړي.
افغانستان کرکټ بورډ کې د کورونا وایرس پر وړاندې د مبارزې او مخنیوي په موخه کمېټه رامنځته شوې چې مشري یې د افغان کرکټ بورډ ډاکټر ښاغلی ډاکټر صفت الله وردګ پر غاړه لري چې هره ورځ ټولو کارمندانو ته د

کورونا پر وړاندې د مبارزې په ډګر کې نوي معلومات وړاندې کوي.
د اداري په داخل کې هر ځای د مېکروب ضد مایع ځای پر ځای شوي او همدارنګه ټولو کارمندانو

ته سپارښتنه شوې چې د ورځې له ۲۰ تر ۳۰ ځلې په ګرمو اوبو او د لاسو وینځلو په مایع لاسونه پاک پرېمینځي او پر خپل ځان او کورنیو ډېره پاملرنه وکړي.
د ډاکټر صفت الله وردګ په وینا، د کرکټ بورډ په داخل کې یې د کورونا پر وړاندې د مبارزې او مخنیوي لپاره ټول نړیوال معیارونه په پام کې نیولي او د دغه وایرس د مخنیوي په ډګر کې یې کلک ګامونه پورته کړي دي.

له لوري ورته هر ډول اسانتیاوې هم رامنځته شوې دي او په دې اړوند په اداره کې څو ځلې ناستې ترسره شوې او لا هم د کارکوونکو سره په ګډه ناستې کوي.))
ښاغلی صفت الله وردګ همدارنګه وايي، د کورونا وایرس پر وړاندې د جدي ګام پورته کولو او محتاط اوسېدو په موخه یې له اړوند لوریو سره مشورې شریکې کړې چې د کرکټ بورډ د مشرتابه په مرسته هغه

نومورې زیاتوي: ((په مرکز او ولایتونو کې موخپلو ټولو کارکوونکو ته سپارښتنه کړې، ترڅو د دغې ناوړه وایرس پر وړاندې ډېر جدي واوسي، له دوی سره ټولې مشورې شریکې شوې او همدارنګه د ادارې

ټول ګامونه پورته شوې چې د دوی له لوري یې وړاندیز شوی و چې په لاندې ټکو کې ورته اشاره کوو:
۱- لومړی درجه ولایتي سیالۍ ځنډول شوې او په هېواد کې د کرکټ اکاډمیو ټولو مسوولینو ته

لاربښوونه شوې، څو تر بیا اعلان پورې خپل ټول کارونه ودروي او اکاډمۍ باید تړلې وي او همدارنګه په ملي اکاډمۍ کې هم په یو ځل له څلور زیات لوبغاړي تمرینات نه شي کولی.

۲- ټولو لوبغاړو او کارکوونکو ته سپارښتنه شوې چې باید له ګڼه ګوڼه سیمو، د لامبو حوضونو، فټنس کلبونو، اکاډمیو، حمامونو او ورته نورو ځایونو ته له تګ په کلکه ډډه وکړي.

لنډ وخت لپاره لرې کړل شوې ده.

۴- ټول کارکوونکي په دوه برخو وېشل شوي چې یوه برخه یې یوه ورځ او پاتې نور هغه بله ورځ راځي، ترڅو په دې سره د اداري په څانګو کې له ګڼې ګوڼې مخنیوی وشي او د کورونا وایرس پر وړاندې غوره مبارزه وشي.

ډاکټر صفت الله وردګ دغه راز زیاتوي، په ټوله کې له ټولو درنو هېوادوالو هم هیله لرم چې د یاد

۳- ټولو کارکوونکو ته ماسکونه او لاسموغان وېشل کېږي، سربېره پر دې هره ورځ ټولو څانګو او دفترونو کې دوا شیندل کېږي او د کارکوونکو برېښنایي حاضري هم د

وایرس پر وړاندې کلکه مبارزه وکړي، له اړتیا پرته باید له کورونو ونه وځي، لاسونه دې بیا بیا ومینځي او خولې، سترګو او مخ ته دې له لاسونو وړلو په کلکه ډډه وکړي.

د نوموړي په وینا، په لاسونو او غېږ دې له سترې مشې کولو هم په

او جدي ډول په پام کې ونیسي.
افغانستان کرکټ بورډ د خپلې

کلکه ډډه وشي او له هېوادوالو هیله ده چې دغه سپارښتنې په کلکه

اداري کارکوونکو ترڅنګ د خپلو هېوادوالو د عامه پوهاوي په برخه

کې هم غوره ګام پورته کړی دی او د ټولنیزو رسنیو له لارې یې د لوبغاړو لنډ کلیپونه جوړ کړي چې پکې خپلو هېوادوالو ته د کورونا وایرس پر وړاندې د مبارزې او له دغې ناروغۍ د مخنیوي په اړوند پیغامونه وړاندې شوي دي چې لاندې یې څو پیغامونه درسره شریکوو:

حضرت الله ځاځی وايي: ((ګرانو هېوادوالو! د کورونا ناروغۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره هره ورځ څو ځلې خپل لاسونه په ګرمو اوبو او د لاس مینځلو په مایع او یا صابون سره پاک ومینځئ.)) دغه راز د ملي لوبډلې ځوان لوبغاړی قیس احمد هم وايي:

((ګرانو هېوادوالو، د روغبړ پر مهال چاته لاس یا غېږ مه ورکوئ.)) همدارنګه د ملي لوبډلې لوبډلمشر اصغر افغان بیا وايي: ((ګرانو هېوادولو! لاسونه مې چې له مېز، څوکۍ، اوسپنو او یا د دروازو له لاستو سره لګېږي نو لومړی ذکر شوي ځایونه او بیا خپل لاسونه د لري چې د کورونا وایرس پر وړاندې ډېر جدي واوسي او د مخنیوي لپاره یې ټولې هغه لارې چارې چې پورته ورته اشاره وشوه، په کلکه مراعات وکړي او پر ځان پام وکړي.

پیچ PITCH



کلیمه پیچ در ورزش کریکت از اهمیت خاص برخوردار است، پیچ در ساحه مرکزی میدان کریکت ساخته میشود و در اصطلاح کریکت، به پیچ ویکت (Wicket) نیز گفته میشود. یک پیچ معیاری ۲۰،۱۲متر طول و ۱۰ فُت یا (۳،۰۵متر)عرض دارد.

بخش های مهم پیچ:

در پیچ علامات و نشانه های زیاد دیده میشود که در این مقاله کوچک شرح خواهد گردید و درین مورد معلومات عمومی در عکس نیز شرح شده است.

۱- خط توپ اندازی (Bowling crease): این خط پای دوم توپ انداز را کنترل میکند و دربین خط یاد شده ویکت نیز نصب میگردد.

۲- خط پاپینگ (Popping Crease): این خط پای اول توپ انداز را کنترل میکند، پای که نخست با زمین میخورد،





اگر پای توپ انداز از این خط عبور کرد این توپ اندازی وی حساب نمی شود یا به اصطلاح کرکت (نوبال) محسوب میشود. توپزن نیز بالای همین خط می ایستد.

۳- واید کریز (Wide Crease): واضح است که این خط واید بال (توپ فراخ) را کنترل میکند، اگر توپ از این خط بیرون میشود توپ فراخ محسوب میشود؛ البته در حالی که توپزن در حالت معمول ایستاده باشد.

۴- ریترن کریز (Return Crease): این خط اخرین ساحه ویکت است اگر پای توپ انداز با این خط تماس پیدا کند یا از آن عبور نماید، در این حالت نیز نوبال (توپ فراخ) محسوب میشود.

۵- لاین (Line) و لینث (Length) : لاین خط مستقیم میان دو ویکت میابشد،





اما لینث در کریکت پنج نوع است، یارکر لینث (Yorker Length)، فول لینث (Full Length)، گود لینث (Good Length) و شارت لینث (Short Length) که معنی اش واضح است.

پیچ چگونه (Pitch) ساخته میشود:

زمانیکه یک پیچ برای اولین دفعه ساخته میشود، ۱۴ اینچ زمین برایش حفر میگردد، بعد از آن بالای زمین کاویده کار میشود که بعد از پخته شدن (2inch) ریگ بالایش انداخته میشود بعدآ بالایش (4 inch) سنگ کلان (2inch) سنگ ریزه (1 inch) خاکه سنگ و در اخر بالایش شش انچ خاک خاص کرکت انداخته میشود. بعداً یک رولر (roller) وزین و سنگین بالای پیچ تا مدت مشخص تیروبیر میشود و معمار پیچ (Curator) از آن مواظبت میکند، وقتی از کار اش راضی شود بالای پیچ بازی های ابتدایی اجرا میشود و در این حالت میتوان از آن استفاده کرد.





RANA Technologies Enterprises

The most trusted ISP/ICT Company in Afghanistan

RANA Technologies Enterprises is a dynamic and leading ISP/ICT and BPO Company in Afghanistan, providing high-quality broadband Internet services, ICT "Turn-key" solutions, and BPO services since 2005



Services

Internet Service

IT Hospital

Malomaat 411

RANA BPO

For more information call
0798 85 85 85

RANA رانا TECHNOLOGIES

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan

www.ranatech.com info@ranatech.com



کورونا وایرس د کرکټ نړۍ هم ښخونده کړه

د کورونا وایرس په نوم وژونکې ناروغی (وبا) په نړیواله کچه د سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي زیانونو سربېره د ورزش او په ځانګړې توګه د افغانستان په ګډون کرکټ لوبې ته هم تاوانونه واړول. د دغه وایرس له امله د افغانستان کرکټ بورډ د کورنۍ کرکټ لومړی درجه (ګرېډ ون) ولایتي سیالیو په ګډون په ټولو هغو هېوادونو کې چې کرکټ کوې پلان شوې نړیوالې او کورنۍ کرکټ سیالۍ ځنډېدلې او یا هم لغوه اعلان شوې دي.

د سویلي افریقا د کرکټ ملي لوبډله چې هندوستان ته د ۳ پنځوس اوریزه لوبو لپاره ورغلې وه د یوې لوبې وروسته یې له دغه هېواد پښې سپکې کړې چې خپل هېواد ته له ستنېدو سره سم قرنطین شوه. هندوستان کرکټ بورډ که څه هم د کرکټ ترټولو معتبر کرکټ لیګ IPL د ترسره کېدو یا لغوه کېدو په اړه وروستۍ پرېکړه نه ده اعلان کړې، خو

تمه نه کېږي چې د مارچ له ۲۹مې د اپریل تر ۱۵مې ځنډول شوې لیګ دې بیا هم په دغه ټاکل شوې نېټه په یاد هېواد کې پیل شي. همدارنګه ټاکل شوې وه چې بنګله دېش کرکټ ملي لوبډلې د لوبو

لپاره ایرلنډ ته ولاړه شي، خو د دوی ترمنځ لوبې هم د یاد وایرس د خپرېدو وېرې له امله تر ناڅرګنده مودې لپاره وځنډول شوې. انګلستان له سریلانکا کرکټ ملي لوبډلې سره له ټېسټ لوبو لاس واخیست او هم یې د څه باندې دوه میاشتو لپاره سمدلاسه

خپلې ټولې کورنۍ کرکټ سیالۍ هم لغوه کړې. بنګله دېش کرکټ ملي لوبډله د مارچ په ۲۹مې نېټه د کرکټ سیالیو لپاره پاکستان ته ورتله



خو د دې وایرس د خپرېدو د وېرې په پار دواړو کرکټ بورډونو د اوس لپاره د سیالیو نه ترسره کېدو پرېکړه وکړه. دغه راز د نیوزیلنډ کرکټ ملي لوبډلې هم د استرالیا سفر په نیمه کې پرېښود او خپل هېواد ته ستنه شوه چې ان د یوه لوبغاړي لوکي فریګوسن په کرونا د اخته کېدو خبرونه هم خپاره شول چې بیا دروغ ثابت شول او تر دې چې د استرالیا او نیوزیلنډ کرکټ بورډونو خپلې ټولې کورنۍ

کرکټ لوبلړۍ، د نړۍ او اسیا غوره کرکټ لوبډلو ترمنځ بنګله دیش کې د کرکټ سیالۍ، ۲۰۲۳ کال پنځوس اوریزه نړیوال جام ته د ٦ لوبډلو ترمنځ مالیزیا کې د کرکټ نړیوالې شورا سیالۍ، امریکا کې د یاد هېواد، سکاټلېنډ او عربي اماراتو درې اړخیزه سیالیو لوبلړۍ، هندوستان کې د یاد هېواد،

کرکټ سیالۍ لغوه اعلان کړې. پاکستان کرکټ بورډ څو ورځې د ننداریانو له شتون پرته پاکستان سوپرلیګ د پنځم پړاو څو سیالۍ ترسره کړې خو نورو پاتې لوبو ته یې دوام ورنکړ چې نیمه پایلوبې او پایلوبه یې دروان کال ترپایه وځنډول شوې.

دغه راز د مارچ په میاشت کې په کینیا کې د افریقا وچې کرکټ ټورنامنټ، اپریل میاشت کې په تایلینډ کې پلان شوې ښځینه سویلي افریقا، سریلانکا، استرالیا او ویسټ انډیز پخوانیو کرکټ

لوبغاړو ترمنځ سیالۍ هم تر اوسه په نړیواله کچه ځنډول شوې دي. د نړیوالو او کورنیو کرکټ سیالیو د ځنډېدو ترڅنګ ډېری کرکټ لوبغاړو خپل ځانونه په خپلو هېوادونو او کورونو کې قرنطین کړي، ترڅو د کورونا وایرس له خپرېدو مخنیوی وکړي او وخت ناوخته خپلو مینه والو ته له دې خطرناکې وبا څخه د مخنیوي په موخه پیغامونه ورکوي او ځانونو ته یې په کورونو کې نورې بوختیاوې پیدا کړې دي.



شرف‌الدین اشرف

هوډ لرم د خپلې غوره لوبې په پایله کې پاکستان یا هندوستان ته ماتې ورکړو

د افغان کرکټ رسمي مجلې لپاره مو دا ځل ستاسو لپاره د افغان ملي لوبډلې له پیاوړي لوبغاړي شرف الدين اشرف سره ځانګړې مرکه کړې، نوموړي سره مو په دغه مرکه کې پر بېلابېلو موضوعاتو ډېرې جالبې خبرې کړې، نو په لاندې کرښو کې ورته ستاسو پام راګرځوو او هیله ده مرکه مو خوښه شي.

اشرف صیب له هر څه وړاندې درنه مننه کوم چې موږ ته دې د مرکې کولو لپاره وخت راکړ او ومو غوښتل چې خپلو مینه والو ته له همدې لارې ستاسو د ژوند، هیلو، موخو او نورو ورته پوښتنو ځوابونه وړاندې کړئ.

اشرف: کور مو ودان، ستاسو له ځانګړې هم ډېره مننه کوم چې زه مو دلته راوغوښتم او له ما سره مو د افغان کرکټ مجلې لپاره مرکه وکړه.

پوښتنه:
د لومړۍ
پوښتنې په توګه، که
راته ووایاست چې د کرکټ
لوبه مو کله او څنګه پیل کړه؟

ځواب: له کوچنیوالي راهیسې مې له کرکټ لوبې سره ډېره مینه درلوده نو کله چې کندز ته ولاړم هلته مې دا لوبه کوله او بیا مې له یاد ولایت څخه د لومړي ځل لپاره په ولایتي سیالیو کې ونډه واخیسته چې الحمدلله ډېر ښه پکې وځلېدم او ومې کړای شول چې د افغانستان ۱۹ کلنې لوبډلې ته لاره پیدا کړم.

پوښتنه: کرکټ لوبې ته چا ډېر هڅولی یې؟

ځواب: که څه هم کورنۍ مې لومړیو کې د کرکټ لوبې کولو اجازه نه را کوله ، خو د تره زوی مې او ملي لوبغاړي میرویس اشرف ډېر هڅولی یم.

پوښتنه: یو وخت مو چې د عادي ځوان په توګه په ټولنه کې ژوند کاوه او اوسمهال چې یو ستوری یاست، په ژوند کې دې څومره بدلون راغلی؟

ځواب: د هغه وخت په پرتله مې په ژوند کې لږ نه بلکې ډېر بدلونونه راغلي دي او زه اوسمهال د افغانستان د یوه استازي په نوم یادېږم، دغه راز مې په ډېری کړنو کې هم تغیرات راغلي او کوښښ کوم چې خپلو مینه والو ته د افغانستان ښه تصویر وړاندې کړم.

پوښتنه: ملي لوبډلې ته مو څرنګه لاره پیدا کړه؟

ځواب: ما لومړی په کورنیو لوبو کې ګډون وکړ چې په پکې ډېر ښه وځلېدم او د افغانستان ۱۹ کلنو لوبډلې ته وټاکل شوم نو چې کله مې دلته هم د پام وړ لاسته راوړنې ودرلودې نو په پایله کې د غوراوي کمېټې له لوري زما نوم هم د ملي لوبډلې په نوملړ کې اعلان شو چې دغه ورځ زما لپاره ډېره د خوشحالۍ ورځ وه.

پوښتنه: کله مو چې د لومړني ځل لپاره په نړیواله کچه د افغانستان استازیتوب وکړ نو هغه مهال مو څه احساس درلود؟

ځواب: په نړیواله کچه د خپل هېواد استازیتوب کومه وړه خبره نه وي، په ځانګړي ډول بیا دغه چاره زما لپاره چې له کوچني والي یو ستر ارمان و او کله مې چې ملي لباس پر ځان و او لوبه مې کوله نو خدای شته د هغه وخت د خوښۍ څرګندونه نه شم کولی چې څرنګه یوه شېبه وه.

ځواب: هڅه مې دا ده چې د نړۍ په کچه د غوره لوبغاړو په نوملړ او درجه بندۍ کې شامل شم او هر افغان راباندې ویاړ وکړي.

پوښتنه: د کرکټ له

پیله دې ورو توپ اچونه کوله او که چټکه توپ اچونه؟

ځواب: له پیله مې ورو توپ اچونه کوله، خو روزونکو له ډېر وخت راهیسې د توپوهنې لپاره هڅولم او همدا ده چې اوسمهال مې توپوهنې ته هم ډېره توجه کړې ده.

پوښتنه: کله دې هم فکر کړی و چې د افغانستان لپاره به یو ښه ستوری شې؟

ځواب: هو، بلکل! ځکه هر ځوان او انسان د خپل راتلونکي لپاره ډېر هیله من او مثبت فکره وا و سي .

پوښتنه: ستاسو په فکر، کوم ډول توپ اچونه مو غوره پایله لري؟

ځواب: کله چې هم د توپوهونکي ضعف او تېروتنه مشخصه کړم نو بیا د هغوی د کمزورتیا ټکي ته په پام سره توپ اچونه کوم او په پایله کې مې توپ اچونه بیا ډېره ښه پایله لري او لومړیتوب مې هم همدا وي چې توپوهونکي ډېر ژر مشخص کړم.

پوښتنه: له بهرني سفر چې راګرځې نو په عادي حالت کې د ورځې څومره تمرین کوې؟

ځواب: له پلان سره سم هره ورځ شا وخوا ۵ ساعته تمرین کوم.

پوښتنه: چې کله هم په نړیواله کچه له کومې لوبډلې سره لوبه لرئ نو ایا کله دې هم د احساساتو پر مهال داسې کوم حرکت ترسره کړی چې وروسته مو ورته پام شوی وي؟

ځواب: هو د لوبې په ترڅ کې د لاسته راوړنې پر مهال ځان نشم

کنټرولولی، نو چې بیا یې وروسته ګورم نو ورته خاندم.

پوښتنه: د افغانستان کوم ولایت دې خوښ دی؟

ځواب: د افغانستان ټول ولایتونه مې خوښ دي خو ننګرهار او نورستان ولایتونه مې د خوښې وړ دي.

پوښتنه: له څه شي ډېره کرکه لرې؟

ځواب: له جګړې.

پوښتنه: د خوښې لوبغاړی دې څوک دی؟

ځواب: خپل ټول لوبغاړي راته ګران دي، خو محمد نبي مې د خوښې وړ لوبغاړی دی.

پوښتنه: که د ژوند تر ټولو لوی ارمان او هیله مو راسره شریکه کړئ؟

ځواب: ستره هیله مې د پاکستان یا هم هندوستان لوبډلې ته ماتې ورکول دي، په دې معنا څو په داسې یوې سیالۍ کې ګډون ولرم چې پکې ډېر ښه وځلیږم او زما د غوره لوبې په پایله کې یادو لوبډلو ته په ګډه ماتې ورکړو.

پوښتنه: خپلو هېوادوالو او مینه والو ته څه پیغام لرې؟

ځواب: له ټولو هېوادوالو مې دا غوښتنه ده چې په هر حالت کې خپل لوبغاړي وهڅوي او ترې ملاتړ وکړي او اوسمهال دې د کورونا وایرس د مخنیوي په موخه د روغتیا وزارت او نورو روغتیایي بنسټونو لازمې او اړینې مشورې عملي کړي.

د افغانستان کرکټ بورډ د څانګو پېژندنه

د افغانستان کرکټ بورډ د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه د فساد پر وړاندې ټولې هغه چارې تنظيم او ترسره کوي چې پر بنسټ يې د افغان لوبډلې د لوبلړيو پر مهال

او د اداري په چاپېريال کې څارنه کېږي، د سرغړونو پر مهال جدي ګام اخلي او هيڅوک اجازه نه لري چې له اصولو سرغړونه وکړي. نو دا ځل مو د افغان کرکټ مجلې لپاره

د افغان کرکټ بورډ له يادې څانګې سره بشپړه مرکه کړې، د دوی فعاليتونه، ورځنۍ چارې، لاسته راوړنې اصلاحات او نور اړوند موارد درسره په دغه مرکه کې شريکوو.

د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګې کارکوونکي:

د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګې کارکوونکي: د افغانستان کرکټ بورډ د فساد ضد يا د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه کې درې کارکوونکي دندې پر مخ وړي، چې له ډلې يې سيد انور شاه قريشي د دغې څانګې د مديريت مسووليت پر غاړه لري، د نظامي زده کړو سربېره يې هم په ياده اړوند برخه کې تر ډېرې مودې کار کړی او لا هم خپل خدمت ته دوام ورکوي. همدارنګه په ياده څانګه کې دوه نور کارکوونکي هر يو رحيم خوستوال چې په سياست او ډيپلوماسۍ کې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري، د دغې څانګې د مرستيال مدير او احمد جاويد اخلاص چې د ليسانس تر کچې لوړې زده کړې

فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه په څو ټکو کې

لري؛ د يادې څانګې ارشد افسر په توګه دنده ترسره کوي. د يادونې وړ ده چې د يادې څانګې کارکوونکي د کرکټ په ټولو اصولو پوه او په اړوند ډګر کې بشپړه تجربه لري.

د افغانستان کرکټ بورډ د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه په ۲۰۱۷ م کال کې د افغانستان کرکټ بورډ په جوړښت کې شامله شوه دغه څانګه دهیواد په داخل او بهر کې د لوبغاړو ساتنه او څارنه کوي. افغان کرکټ بورډ له ۲۰۱۷ کال وړاندې د کرکټ د نړيوالې شورا (ICC) د فساد پر وړاندې د مبارزې اصولو او نړيوالو قوانينو په رڼا کې خپلې پرېکړې کولې، خو د کرکټ بورډ د نوي مشرتابه په راتګ سره د افغان کرکټ لپاره نوی قانون تاييد او تصويب شو چې اوس يې په رڼا کې ټولې اړوند پرېکړې کوي.

ياده څانګه د کورني کرکټ ترڅنګ د افغان کرکټ د ټولو سياليو لپاره له وړاندې علمي سيمينارونه او ورکشاپونه تنظيموي، په ياد ډګر کې عامه پوهاوی ترسره کوي او ټول لوبغاړي د فساد پر وړاندې د فيکسرانو د تخنيکونو او تکتيکونو خبروي، څو د دوی هغوی له لوري دوکه نه شي او په خپل وخت اداره په جريان کې کړي. دغه راز بايد وويل شي چې د کرکټ نړيوالې شورا د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه په ۲۰۰۰ م کال کې د يو انګليس ډګروال (اليکس مارشل) له لوري رامنځته شوه چې اوسمهال د بېلابېلو هېوادونو استازي پکې کار کوي.

د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګې اساسي او مهمې چارې

- د کرکټ بورډ اړوند ټولو لوبغاړو ساتنه او څارنه.
- د کرکټ په ډګر کې د فساد پر وړاندې جدي مبارزه کول.
- لوبغاړو ته د فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ورکشاپونه او سيمينارونو جوړول.
- د لوبغاړو د دوسيو تنظيم، ترتيب او څېړنه
- کورنيو او نړيوالو لوبو کې له لوبډلې سره د ټولو تلونکو مسوولينو څارنه.
- د کرکټ لوبې په ټولو چارو کې له روڼتيا او شفافيت څارنه کول، همدارنګه د ټولو اړوند شته قوانينو په چوکاټ کې له لوبغاړو څارنه کول.
- د يادې څانګې لپاره د شته پاليسيو او قوانينوعملي کول.

ورځنۍ چارې

- لوبغاړو او اداري مسوولينو ته له سياليو وړاندې د فساد پر وړاندې د مبارزې قوانين اوپاليسي تشريح کول.
- د لوبډلو د نوملړونو له ترتيب وروسته د لوبو ځای ته ځان رسول او همدارنګه تخنيکي اسانتياوې رامنځته کول.
- د PMOA تعقيبول، لوبغاړو او اداري کارکوونکو ته د اصولو او پاليسو په رڼا کې اسانتياوې رامنځته کول.

د اصلاحاتو او روڼتيا رامنځته کول

د کرکټ بورډ اداري د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه کې اوسمهال د تېر په پرتله ډېر بدلون رامنځته شوی دی. اوسمهال په خپل وخت د ملي، الف، نولس کلنو او د کورني کرکټ لوبغاړو د دوسيو څارنه او څېړنه کېږي چې د کرکټ د نړيوالې شورا د پاليسۍ پر بنسټ يې بشپړه څېړنه کېږي چې دا د ی اوسمهال د تېر په پرتله په ډېرو برخو کې روڼتيا رامنځته شوې ده او هر لوبغاړي ته خپل حق رسيدلې او سپارل شوی.

د دغې څانګې شعار

د افغانستان کرکټ بورډ د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګې شعار، په اداره کې د لا ډېرې روڼتيا او شفافيت رامنځته کول، له فساد څخه په بشپړ ډول د افغان کرکټ پاکول، په مشخص او ټاکلي وخت خپلو ټولو مسوليتونو ته لاسرسی او د درغليو، اداري فساد او بډو يا رشوت پر وړاندې جدي مبارزه کول دي.

موخې او اهدف:

- د کرکټ بورډ اداري د فساد پر وړاندې د مبارزې څانګه د يو بشپړ او روڼ سيستم رامنځته کولو لپاره کار کوي او دغه چاره يې په لومړيتوب کې ځای لري.
- د لوبغاړو په اړه د بشپړو مالوماتو وروسته د هغوی دوسيې په بشپړه بې طرفۍ څېړنه او د کرکټ نړيوالې شورا د پاليسۍ له مخې، د کرکټ بورډ اداري رهبرۍ او رسنيو سره شريکول.
- اداره کې د لا ډېره او غوره همغږي رامنځته کول او د يوه بشپړ روڼ سيستم رامنځته کول.

د دغې ثانگې پیغام:

ځوان افغان کرکټ ته وده او پرمختګ ورکول او دغه شریک ارمان ته په شریکه کار کول.

نوټ: د دغې ثانگې کارکوونکي د کرکټ له مینه والو هیله کوي چې که چېرې د فساد ضد کومه دوسیه ویني نو په لاندې شمېرې او برېښنالیک ورسره اړیکه ونیسئ.

۰۷۸۱۵۰۰۰۰۹

ACSU@afghancricket.af

ستارک د خپلې مېرمنې هيلې لپاره د سويلي افريقا پر وړاندې پايلوبه پرېښوده

د استراليا چټک توپ اچوونکي مېچل ستارک له هغه وروسته د سويلي افريقا پر وړاندې د يو ورځنيو سياليو د لوبلړۍ پايلوبه پرېښوده چې د ښځو د شل اوريز نړيوال جام سياليو په پايلوبه کې يې د خپلې ښځې الايسا هيلي د لوبې ننداره کولو غوښتنه ومنل شوه.

د ښځينه کرکټ نړيوال جام سياليو په پايلوبه کې د استراليا لوبډله د هندوستان له لوبډلې سره مخ شوه چې په همدې موخه ستارک هم د خپلې مېرمنې د لوبې ليدو او هغې ته د هوډ ورکولو په موخه د استراليا مېلبورني کرکټ لوبغالي ته راغی او د خپلې مېرمنې لوبه يې له نږدې ننداره کړه. د استراليا کرکټ لوبډلې مشر روزونکي جسټين لانګر د ياد هېواد د کرکټ بورډ له لوري په نشر شوې اعلاميه کې ويلي: ((داسې څه په ژوند کې ډېر کم پېښېږي نو دا مېچل لپاره يو ښه چانس دی چې الايسا د نړيوال جام په لوبه کې له نږدې وګوري، موږ په دې پرېکړه خوشحاله يو چې هغه بيرته هېواد ته راشي او د خپلې مېرمنې لوبه له نږدې ننداره او له هغې ملاتړ وکړي.)) ستارک د سويلي افريقا له پوچيفسټروم څخه په داسې حال کې د خپلې مېرمنې د لوبې ننداره کولو ته راوګرځېده چې له دې وړاندې دوه يو ورځنۍ لوبې د سويلي افريقا په ګټه پای ته رسېدلې وې، خو له دريمې او وروستۍ لوبې څخه د خپلې مېرمنې د ليدو په موخه بيرته استراليا ته راستون شو. د يادولو ده چې د ښځو په شل اوريز نړيوال جام کې د هندوستان او استراليا لوبډلو پايلوبې ته لاره موندلې وه چې په پايله کې يې استراليا لوبډلې له هندوستان ښځينه لوبډلې څخه د ۸۵ منډو په توپير لوبه وګټله او د ۲۰۲۰ کال نړيوال جام يې په خپل نوم وليکه. په دغه لوبه کې د استراليا ښځينه لوبډلې له خپلې سيالۍ لوبډلې په ۲۰ اورونو کې د څلورو ويکټو په سوځېدو ۱۸۴ منډې ترلاسه کړې وې، خو د هندوستان لوبډلې دغه هدف پوره نه کړای شو او په ۱۹،۱ اورونو کې يې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو يوازې ۹۹ منډې وکړې او نړيوال جام يې استراليا لوبډلې ته پرېښود. د يادولو ده چې الايسا هيلي په دغه لوبه کې ډېره ښه وځلېده او په يوازې ځان يې د خپلې لوبډلې په ګټې ۷۵ منډې جوړې کړې چې د نوموړې د ډېرو منډو په پايله کې استراليا لوړ هدف جوړ کړ او دغه ستره بريا يې د خپل هېواد په نوم ثبت کړه.

Ackerman further added that the beauty of the Afghanistan batting line-up is that they bat very deep as even the lower order can contribute very well at times with bat in hand. However, he said that the important thing for these batsmen will be to play the different roles as well as they can which is why the head coach wants flexibility in the team. In Ackerman's first series as the batting coach, Afghanistan beat Ireland 2-1 in the recently concluded T20I series between both sides at the Greater Noida Ground in India.

AFGHAN TALENT

IMMENSE AND EXCITING

H.D ACKERMAN

Afghanistan's newly appointed batting Coach, H. D Ackerman says that it has been a fabulous experience so far for him with the Afghan national team.

Afghanistan's newly appointed batting Coach, H. D Ackerman says that it has been a fabulous experience so far for him with the Afghan national team. In a brief interview for ACB's social media, Ackerman was all praise for the talent in Afghanistan and added that he is looking forward to being involved for a longer time to come with the national team. He said the willingness to learn displayed by Afghan players has impressed him the most as they know well where they want to go and what is required to go there.

He further added, "I have watched some of their best players play around the world in different leagues. However, what has really struck me is their amazing ability to find the boundary in T20Is just when it's needed the most. It is something that, in my opinion, they can level themselves up with any top side in the world."

As far as improvements are concerned, Ackerman remarked that the coaching staff including Head Coach Lance Klusner's focus will be to work on different basic aspects of batting with the team such as Strike rotation and running between the wickets so that they are at par with the best teams in the world.

پوهنتـــــون کـــاردان
KARDAN UNIVERSITY

A World of Possibilities

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

> In September 2018, Kardan Universityearned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Business Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA International Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Education in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articulated in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, student growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at Kardan.edu.af

د افغانستان اسلامي بانک

د ایرلنډ پر وړاندې د دریو شل اوریزو نړیوالو سیالیو د سرلیک مالي ملاتړ کوونکی

کام ایر هوایي شرکت

د ایرلنډ پر وړاندې د افغانستان ملي لوبډلې د دریو شل اوریزو سیالیو لپاره د هوایي لیکې همکار

کاردان پوهنتون

د ایرلنډ پر وړاندې د دریو نړیوالو شل اوریزو سیالیو لپاره د افغان ملي لوبډلې مالي ملاتړ کوونکی

عزيزي بانک
Azizi Bank

د عزيزي بانک ازي پې(AZI-PAY)، د بانکوالۍ په لوري نوی او ثابت گام

24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515
www.azizibank.af